ICRC

خبر پاڼه – اګست ۳۰ ، ۲۰۱۶ (وړی ۹ ، ۱۳۹۵)

د انځور له مخې پېژندنه :

له کډوالو او د دوی له کورنیو سره د لا درکه شویو خپلوانو به موندنه کې مرسته

د لا درکه شویو کسانو د نړیوالې ورځې په ویاړ، د سره صلیب او سرې میاشتې ملي ټولنې او د سره صلیب نړیواله کمیټه ستاسې پام د کډوالو او د دوی د خپلوانو کړښت ته را اړوي، چې په خپلو لادرکه عزیزانو پسې ګرځي. په ۲۰۱۳ کې سره صلیب د انځور له مخې د پېژندنې په نامه یوه انلاین اسانتیا یا وزله رامنځ ته کړه، چې موخه یې دا وه، له هغو خلکو سره د خپلو خپلوانو په موندنه کې مرسته وکړي، چې اروپا ته د کډوالۍ پر لارو لا درکه شوي وي. هغه کسان چې په اروپا کې له خپلو عزیزانو څخه جلا شوي وي؛ نو www.tracetheface.org ویبپاڼه ورته دا اسانتیا برابروي چې پکې خپل انځورونه خپاره کړي، ترڅو له دې لارې د خپلې پلټنې په اړه تبلیغات وکړي.

څومره چې ډېر خلک د دې اسانتیا په اړه خبرېږي؛ نو هیله ده چې هماغومره به لا ډېرې کورنۍ سره بیا یوځای شي. تر اوسه پورې له آفریقا، منځنۍ ختیځ او افغانستان څخه خلکو خپل انځورونه په دې ویبپاڼه کې په دې هیله خپاره کړي، چې له خپلو کورنیو سره بیا یوځای شي.

حاجي محمد د افغانستان اوسېدونکی دی او له خپل ځوی سره یې هغه مهال اړیکه له لاسه ورکړه، چې ځوی یې اروپا ته په سفر وو دی وایي: *" لکه چې د بدن یو غړی مې لا درکه وي" . نومورې زیاتوي: " له کله نه مې چې ځوی لا درکه شوی ما او مور یې له خپګانه سترګه نه ده پټه کړې او لا به یې پټه هم نکړو، تر دې چې په شو څه پېښ شوي دي. "*

د انځور له مخې پېژندنه، په اروپا کې هغو خلکو ته چې د خپلوانو د موندنې په هڅه کې دي دا اجازه ورکوي چې خپل انځور درج کړي، ترڅو د دوی د پېژندنې چانسونه ډېر کړي. یوازیني معلومات چې خپرېږي، هغه د دوی انځور او له لا درکه شوي خپلوان سره یې د خپلوی د اړیکې ډول دی. نور ټول معلومات لکه، نوم او موقعیت به یې په محرمانه توګه وساتل شي. تر نن پورې، 1,470 انځورونه په دې ویبپاڼه کې خپاره شوي دي.

د خلکو د اړیکو بیا ټینګول وخت ته اړتیا لري او د ښلتون په موده کې کورنۍ درد ګالي. د لا درکه شویو کسانو په دې نړیواله ورځ، د دې ویبپاڼې، فیسبوک پاڼې په خپرونه کې راسره مرسته وکړئ. ځینې لا تر اوسه خپلو لا درکه عزیزانو ته سترګې په لاره دي.

د انځور له مخې پېژندنې په هکله د لا ډېرو معلوماتو لپاره په لاندې پتو/ د نماینده ګي او نورو دفترونو له ټیلفون شمېرو سره اړیکه ونیسئ

دحاجي یعقوب څلور لاری، نوی ښار

کابل

د اړیکو شمیره: ۰۰۹۳۷۲۹۱۴۰۵۳۲ /۰۰۹۳۷۰۰۲۹۷۷۷۷

kabul@icrc.org

د لا زیاتو معلوماتو لپاره د مطبوعاتو محترم همکاران کولای شي چې د لاندې شمیرو سره اړیکه ټینګه کړئ .

جسیکا باري، آی سي آر سي کابل، د اړیکې شمیره : ۰۰۹۳۷۲۹۱۴۰۵۱۰

احمد رامین ایاز (دري او پښتو)، آی سي آر سي کابل ، د اړیکې شمیره: ۰۰۹۳۹۷۴۶۱۸۹۰۸